AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۳/۲۴

# د تن شمع مي سوځي

د کورونا د یوازیتوب او کوټه قلفۍ! په دې شپو ورځوکي د "سخن" مجلې پخوانۍ ګڼې لولم. په افغانستان کي مي هم لوستلې." سخن" مجله په فارسي ژبه د ایران له ډېرو معتبرو ادبي او علمي مجلو څخه وه چي بنسټګر ئې پرویز ناتل خانلری (۱۹۱۳ ــ ۲۰۰۰ع) او لومړی د امتیاز څښتن ئې ذبیح الله صفا (۱۹۱۱ ــ ۱۹۹۹ع ) وو. دا مجله له ۱۳۲۲ش = ۱۹۴۳ع څخه تر ۱۳۵۷ش = ۱۹۷۸ع پوري له یوې وقفې سره وچلېده.

پرویز ناتل خانلری ادیب وو، ژبپوه وو، شاعر وو او سیاستمدار وو. لیکنو ئې د فارسي ژبې په ټولو حوزو کي لوستونکي درلودل او نړیوال هم ورسره بلد ول. د "سخن" مجلې سرمقالې دده په قلم لیکل کېدلې او آموزنده مطالب لرې. د ۱۳۵۱ش کال د شپږمې ګڼې سرمقاله ئې د صادق هدایت ( ۱۹۰۳ــ ۱۹۵۱ ع) اویایمې کلیزې ته وقف کړې ده او لیکلې ئې دي چي که هدایت ژوندی وای، موږ به ئې همدا اوس اویایمه کلیزه نمانځلای. په دې لیکنه کي ئې د ده څو خاطرې او له مجلې سره د همکارۍ په باب یو لړ ټکي بیان کړي دي. لیکنه ئې د یوه انګلیسي شاعر د کوم شعر په ژباړه پای ته رسولې ده چي غالباً به دپرویز ناتل خانلري خپله وي:

گر شمع وجودم از دو سر می سوزد
تـا ظــن نبـری کـه بی ثـمر می سوزد

شب را نرساند به سحر لیک ای دوست
بـنـگر کـه چه با فـروغ و فر می سوزد

دې څلوریځې نه پوهېږم ولې پر ما اغېزه وکړه او سره له دې چي اصلي شاعر ئې راته معلوم نه دئ، خو پښتو بڼه مي داسي پر خوله راغله:

د تـن شـمـع چي مي سوځي له دوه سره
هسي خـوشـي ئـي مـه بـولـه بـي ثـمـره

کړی شپه ئي سرې لمبې تر سر تاوېږي
ګـوره! سـوځي پـه څه مینه، د زړه سره

ما ۱۴۰۰هـ ش کال او نوی قرن په همدې لیکنه پیل کړ. دا نو را معلومه نه ده چي له دې قرن سره به څو ورځي، که څو میاشتي او که څو کاله ملګرتیا وکړم؟

آشاوا ــ کاناډا
د مارچ ۲۲مه ۲۰۲۱ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ